## ج برخه: دمالدارۍ دصنعت برخې

## لومړۍ لوست: د غواګانو دروزنې دصنعت ازمايښت

**د زده کوونکو د زده کړی موخې:** د دې لوست په لوستلو سره به زده کوونکي لاندې موخي ترلاسه کړي:

1) د غوښينو غواو غوښيني برخې و نوموئ.
2) د عادي غوښينو غواو نسلونه لست کړئ.
3) روښانه کړئ چې غوښيني غواوې څرنګه ټاکل کيږي؟
4) د غوښينو غواو د خدمت نوعې تشخيص کړئ.

**د لوست ټاکل شوی وخت:** ۳ ګړۍ

**دمنابعو لړلېک:** لاندې منابعې کېدی شي ددې لوست په زده کړه کې ګټوري وي.


Ensminger, M. E., *The Stockman's Handbook.* Danville, Illinois: Interstate Publishers, Inc. 1992


**Internet keywords:** Beef cattle, beef breed, cattle and animal care.

**د لوازمو، وسيلو،اسانتياوو او تهيه کونکو لړليک:**

- سپينه يا توره تخته (لېک دړه).
- پاورپواينټ او پراجکتور يا غټ ښودونکی.
- د پاورپاينټ سلايدونه يا صفحې.
- د پراجکتور لپاره روښانه کاغذ.
- دزده کونکو لپاره لابراتواري کاغذ.

**اصطلاحات:** په دې لوست کې دا اصطلاحات وړاندې کيږي.(په غټو حروفو ښودل کيږي): د پاورپواينټ ۲ نمبرسلايد يا صفحه.

- د غواګانو تغذيه کونکي **(Cattle feeders)**
- جوړښت يا بڼه **(Conformation)**
- د غوا- خوسکی لپاره خدمتونه**(Cow-calf operation)**
- د برخه کېدو قدرت**(Cut ability)** دغوښې د کوچنيو برخو اندازه چې د جسد څخه په لاس راځي.
- غوښتنه**(Demand)**
- دوه مقصده نسل**(Dual-purpose breed)**
- زړه راښکونکي ځانګړتياوې**(Desirable traits)**
- چاقېدونکي خوسکي**(Feeder calves)**
- د بدن د جوړښت په اساس اندازه کول او ازمايښت سرته رسول**(Frame score)**
- مرمريت**(Marbling)**
- د کار کولو يا تولېد قدرت**(Performance)**
- د ښکرو نه شتون**(Polled)**
- د سوچه نسل تولېد کونکي**(Purebred breeders)**
- برابرول او وړاندې کول**(Supply)**
- هغه چاقېدونکي خوسکي چې عمر يې د ۱-۲ کالو ترمنځ قرار لري**(Yearling Feeders)**

دلوست لپاره ښنه وړتياوي:  داسې يوه ښه لاره غوره کړئ چې زده کونکي د زده کړې لپاره اماده کړي. ښوونکي د ځانګړو ټولګيو د زده کونکو لپاره دهغوي د لياقت سره سم ځانګړي لاري غوره کوي. دې موخې ته د رسيدو لپاره لاندې ممکنه لاري شتون لري.

ټولګی ته د زده کونکو د ننوتلو پرمهال د غواګانو د نسلونو ښودنه. د لوست په منځ کې د شکلونو دښودلو په خاطر د پاورپواينټ سلايدونه په کار واچوئ. هر زده کونکی دې ته اړ باسئ چې دغوښينو غواو او دهغوي  د نسلونو په اړوند پنځه پوښتني وکړي.

## د لوست ستراتيژي او دمحتوياتو لنډيز

**١ موخه: د غوښينو غواو د غوښينو برخو نومول:**

**اټکل شوې ستونزه: د غوښينو غواو ټولي غوښيني برخي کومي دي؟**

له زده کونکو څخه وپوښتئ چې څو وګړي د مالدارۍ د لومړۍ لوست څخه چې ورته تدريس شوی وو د غوښينو غواو د برخو نومونه په ياد لري او همدارنګه ورته تکراروو چې تير شوی لوست د غوښينو غواو د غوښينو برخو د تشخيص په بنا مخکې وړو او هم ورته وويل شي کوم دياګرام چې دوي د غوښينو غواو د برخو په هکله جوړ کړی دی په خپله مخه کې کيږدي.که چېږي ټول له دوي څخه دياګرام نه لري، نو په دې حال کې دې د پاورپواينټ ٤م نمبر سلايد د ماخذ په توګه استعمال کړي.

I. څرنګه چې دغوښينو غواو څخه موخه د مصرف په توګه د غوښې توليد دی. مونږ د دوي اساسي برخو تشخيص ته پام نه کوو بلکه د ځاروی غوښينو برخو ته پام کوو.

A. مونږ د غوښينو غواو دېري برخي د اناتومي او فزيالوژي د تيرو درسونو څخه زده کړي دي. تاسې بايد لومړی د لوست محتواي باندې پوه شئ او په ژبه يې د ويلو

قدرت ولرئ ( په هغه صورت کې چې تاسې يوه غوره غوا له نورو غواوو څخه ټاکئ). د پاورپواينټ ۳-٤ نمبر سلايدونه.

B. د غوښينو غواو د غوښې مربوطي برخي زياتي دي چې له څارويو څخه اخستل شوی دي،په ريفرينس کې شتون لري، تاسې بايد هغه وپيژنئ. دا د غوښې داصطلاحاتو څخه عبارت دي لکه ملا، لنده ملا، د غوښې برخي او لنډي پښتۍ دي.پاورپواينټ ٥-٦ نمبر سلايدونه.

ايا زده کونکي د غوښينو غواو د غوښې انځور شوي برخي لري؟ که چېري يې لري نو دوي کولي شي چې هغه په تکراري توګه د پري کولو او په خپل ځای کې يې د ځای په ځای کولو په اساس د مثل يا ((معما)) په توګه استعمال کړی د مرستي په خاطر کولی شئ چې TM۱-۱ پاورپواينټ څخه ګټه واخلئ .

۲ موخه: د غوښينو غواو معمولي نسلونه لست کړئ.

اټکل شوې ستونزه: دغوښينو غواو معمولي نسلونه کوم دي؟

له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ تر څو د ټولګی په ماحول وګرځي او ښه شيان ونوموي. دا کيدي شي زمونږ د ذکاوت له مخې انځور، ليکنه او يا تک کونکي انځورونه وي. غوښيني غواوي د فردي ذکاورت لرونکي دي. همدارنګه بايد ورته وويل شي چې مونږ د غوښينو غواو د څو نوعو په هکله بحث کوو. وروسته به هغوي د هغه نسل په اړوند تحقيق وکړي چې دوي ورسره دلچسپي لري.

II. دافغانستان دغوښينو غواو معمولي نسلونه د نورو هېوادونو څخه راوړل شوي دي. لومړي بايد په هغه اصطلاحاتو پوه شوچې له کومو څخه کار اخستل کيږي د بيلګې په توګه

ښکرنه درلودل(Polled): هغه خوسکي چې په طبيعي توګه بيدون له ښکرو توالد شوي دي.

مرمريت(Marbling): په عضلاتو کې په خپور ډول سره د زړه راښکونکی شحم شتون.

دبرخه کېدو قدرت(Cut ability): دغوښې هغه په لاس راغلي برخي دي چې ګټه ورځخه اخستل کيږي .

دوه مقصده نسلونه(Dual-purpose breed): د غواوو اډا نسلونه په رواجي توګه د شېدو او غوښې د توليد لپاره استعماليږي.پاورپواينت ۷ سلايد.

ځني له دې نسلونو څخه چې دافغانستان د اقليم سره مناسب دي عبارت دي له برهمان، غوائي او زيبو څخه.

A. برهمان: د غواوو اډا نسلونه په ډېري اسانی سره د اوږو څخه پورته کوهان، لوي او ځوړندو غوږونو پواسطه تشخيص کيږي.عموماً په زيات خاورين او زيات سره رنګونو سره پيداکيږي. د برهمان غواوي د Bos Indicus له جنس څخه دي چې له هندوستان څخه يې منشا يا ريښه اخسته ده. د غواوو اډا نسلونه دهندوستان په متمادي قرنونو کې د غذا د لږوالی ، حشرو د شتون، افاتونو، پرازيتونو او دګرمي هوا ناروغی سره د ژوند د تيرولو په خاطر د پورته شرايطو سره ښه توافق کړی دی. پاورپواينت ۸-۹ نمبر سلايدونه.

B. غوائي(Oxen): غوايان(يو يي غوائي) د هغه غواوو نه عبارت دي چې د پيتی د کشکولو او د پيتی دوړلو لپاره روزل کيږي. اکثره دوي بالغ نارينه او خصي شوي وي. دوي د قلبي کولو،ترانسپورت، د پيتی د وړلو، درمند کولو، د دانو د ميده کونکو ماشينونو د تاوولو، د اوبو د پورته کولو او نورو موخو لکه د

ګاډیو د کش کولو لپاره په کار وړل کیږي. دا غوایانو اکثره د جوړه یي ټیم په توګه د سپکو کارونو دسرته رسولو لکه د ګاډ یو د کش کولو په خاطر استعمالیږي. پاورپواینټ ۱۰-۱۱ سلایدونه.

C. زیبو(Zebu) دهغه اصطلاح نه عبارت ده چې د Bos

D. Indicus سره ورته ده. باس اندیکس په نړۍ کي دهغه غواو لپاره چې کوهان ولري یو علمي نوم د ی. دنړۍ دزیبو غواګانو عمده نسلونه عبارت دي له: ګایر، ګجرات، اندوبرازیلیان، نیلور او برهمان څخه. چې منشا یي د هندوستان هیواد دی او داسي فکر کیږي چې د نړۍ له قد یمي اهلي شوو نسلونو څخه دي.پاورپواینټ ۱۲-۱۳ سلایدونه.

پورته ذکر شوو نسلونو ته د راجع بحث څخه باید زده کونکي د خپلي ساحي د معمولي غواوو نسلونه لست کړي. زده کونکي په ازادانه یا جوړه ئي توګه د غواو نسل ټاکي. وروسته باید زده کونکی درس ورکړي چې دا ټاکل شوې غوا دنسلونو په منځ کي یوه په زړه پوري غوا ده. زده کونکي باید نسلونو ته راجع معلومات لکه رنګ، لوړ وزن، اصلي منشا، او په زړه پوري ځانګړتیاوي او یو د زړه راښکونکو حقیقتونو څخه وومي. وروسته باید دټولګی نورو زده کونکوته د ټاکل شوي نسل پوري مربوط معلومات ورکړي. ددې معلوماتو لپاره ۱-۱ LS وکاروی.

۳ موخه: د غوښنیو غواو د ټاکلو لاره روښانه کړئ؟

اټکل شوې ستونزه: څرنګه پوهیږو چې کوم غوښین څاروی نسبت نورو ته غوره دی؟

زده کونکي باید هغه یاداشتونه لست کړي چې څنګه یو غوښین څاروی نسبت بل ته غوره دی. امکان دې ولر چې هغه ډیر ساده شیان لکه رنګ او دڅاروی ظاهري بڼه وي. زده کونکو ته باید

وویل شي چې تاسې  هغه ځانګړني وپیژنئ کومې چې دهقانان د یو ښه څاروي په ټاکنه کې کوښښ کوي.

III. د دې په خاطر چې خپله رمه اصلاح کړو، نو باید چې د ټاکونکي څاروی په اړه په زړه پوري ځانګړتیاوي ولرئ.

په زړه پوري ځانګړتیاوي: هغه ځانګړني دي چې په بازار کې یې غوښتنه کیږي. په عمومي توګه ټاکني د جوړښت او ریکارډ په اساس چې په لاس راغلي صورت نیسي.

جوړښت یا بڼه: دڅاروی د شکل، فورم او نوعې څخه عبارت دی.

تولیدي په زړه پوري ځانګړتیاوي: د څارویو د مثل د تولید، د مور دشیدو څخه د جدا کېدو، د وزن اخستل او قوي پاتي کېدو د قدرت څخه عبارت دي.پاورپواینټ ۱٤ نمبرسلاید.

A. د دې په خاطر چې یو څاروی رمې ته راوړو نو یوه طریقه یې داده چې د هغې نه لېدنه وکړو،دهغې ارزیابي او نمره ورکول د نوموړی څاروی د ظاهري جوړښت په بنا صورت نیسي . د ظاهري جوړښت (Frame score) په بنا نمره ورکول د څاروی د اندازې نه عبارت دي تر چې د ۲۰۵ ورځو په موده کې د هغې لېدنه او ارزیابي صورت ونیسي. د ظاهري جوړښت له مخې دنمرې د تعین لپاره د اندازې ټاکل له ۱-۱۷ نمرو پوري استعمالیږي.

B. د یو څاروی د جوړښت په اساس نمره ورکول د ۱-۱۷ نمرو په واسطه تعنیرږي. د بیلګی په توګه د ۹-۱۱ ترمنځ نمري د منځني حد لاندې حسابیږي. د ۱۲-۱٤ منځنی حد. د ۱۵-۱۷ نمرو پوري د منځني حد څخه پورته حسابیږي.پاورپواینټ ۱۵ سلاید.

C. کله چې څاروی ټاکې، نو باید پوه شئ چې د یو نسل تولي ځانګړتیاوي د بل نسل څخه غوره نه وي. پریکړه وکړئ چې نسل د لوړو ځانګړتیاوو او فردي ځانګړتیاوو په بنا و

ټاکی. پرته له ټاکنو ددې په خاطر چې په راتلونکی کې مو د خپل څاروی نسل ساتلي وي
نو باید چې ښه اداره او ښه خدمتونه په پام کې ونیسو. ښه اداره د خوراکي په ورکولو،
ارامونکي شرایطو د ژوند په خاطر، د څاروی له صحت څخه د څارنې او د مورنې سټاک
د تشخیص او ارزیابی لپاره په بر کې نیسي.پاورپواینټ ۱۶ نمبر سلاید.

D. درمې د اصلاح په خاطر د څاروی دټاکنې لپاره د پاې پریکړه داده چې د یو ماهر او
مشهور نسل اخستونکي او تولید کونکي ټاکنه سرته ورسیږي، څاروی باید اطمنانې
وي ترڅو چې د ناروغیو نه خالی وي او کومې جینیتکي ستونزې ونه لري او د رمې د
ښه والي په خاطر یې په رمه کې د ګتورتیا ریکارډ تعین شي.پاورپواینټ ۱۷ سلاید.

د غوښینو غواو د ټاکنو په خاطر د بحث لپاره د **2-1:TM** استعمالیږي. که چیرته امکان
شتوي ولري نو زده کونکي دي ساحې ته ویوړل شي ترڅو چې غواګانې په سترګو وګوري او
ټاکنه ترسره کړي عموماً د پیرودلو په مهال.

**٤ موخه:** د غوښینو غواو د تولیدي خدمتونو نوعي تشخیص کړئ.

**اټکل شوې ستونزه:** زمونږ د اړتیا د پوره کولو په خاطر کومه نوعه د تولیږد وړ ده؟

په تولنه نړی کې د غوښینو غواو تولید کونکي د دې قدرت لري ترڅو وکولی شي چې کوم نوع
خدمتونه د غوښینو غواو د تولید لپاره ولري. دا نوع ټاکل شوي خدمتونه په نړی کې اسانه نه
دي. نو د غوښینوغواوپه مختلفو تولیدي برخو باندې پوهیدل اړین دي.

**IV.** درې نوع خدمتونه د غوښیونو غواو په هکله شتون لري: لومړئ نوع د خوسکی له خدمتونو
څخه عبارت دي. دویمه نوع په غوجله کې د چاقیدونکی خوسکو څخه عبارت دي. دریمه
نوع د سوچه نسل ،د نسل اخستنې څخه عبارت ده. مخکې له دې چې پریکړه وکړو چې کومه
نوع د دې تشکیلاتو ستاسي لپاره غوره ده . د غوښینو غواو د غوښې تولید تحلیل کړئ او

خپل ځان د هغې د ګټو او زيانونو په هکله اطمناني کړئ او همدارنګه د بازار حالت هم وګورئ او پريکړه وکړئ چې له کومې غوښتني سره مخ کيږئ بيا تصميم ونيسئ .

A. د خوسکی خدمتونه: د بالغو غواود ساتلو څخه د خوسکو د توليډ لپاره عبارت دي ترڅو چې په نورو توليډ کونکو باندې وپلورل شي. په د ې تشکيل کې نسل ورکونکي غواوي کولی شي چې هر کال بچي ورکړي په خاصه توګه د ژمي په اخر کې او يا د پسرلی په اوايلو کې. خوسکي په دوه لارو پلورل کيږي: چاقې‌دونکي خوسکي(ډنګر): د اخوسکي مخکې له يو کلنی له مور څخه جدا کيږي، اود حلالي تروخته په طويله کې تغذيه کيږي. يو کلن چاقې‌دونکي خوسکي:هغه خوسکي دي چې عمر يې د ۱-۲ کالو په منځ کې وي، په نورو توليډ کونکو باندې پلورل کيږي ترڅو چې هغوي يې د حلالي تروخته تغذيه کړي. د خوسکو خدمتونه:د نمو پرمهال خوسکي د څرځای له وښو څخه ښه استفاده کوي د نورو خدمتونو په نسبت کمو کارګرو ته اړتيا لري. د دې خدمتونو پيل اسان وي، نو په همدې خاطر کمې پانګونې ته اړتيالري. د تشکيل لوازمو او اسانتياوو ته کمه اړتيا لري په خاصه توګه په هغه وخت کې ګټور وي کله چې د نباتاتو دکښت لپاره ځمکه وړ نه وي. بله ګټه يې داده چې د يو شمير بچيو د ساتني په اساس کولی شو چې اندازه يې لوړه کړو او هر کال تاسې دې ته اړ نه ياستئ چې نور څاروي وپيرئ، ځنې زيانونه د خوسکو د خدمتونو دا دي چې د ځمکې د پيرودلو په خاطر زياتې پانګونې ته اړتيا لري، د ګټې قدرت نه لري: له همدې پلوه د خوسکو لپاره د خرڅلاو مودې ته د رسېدو په مهال غوښتنه کمه وي  او هم د شېدو څخه د بچيو د جداکولو او د هغوي د جسم کوچني پاتي کيدل نوري ستونزي دي.پاورپواينټ ۱۸-۱۹ سلايدونه.

**B. د غواو تغذيه کونکي:** دا توليد کونکي د بازار د حلالي تروخت غوښنيني غواوي تغذيه کوي،اخستونکی يا خاوند معمولاً يو کلن خوسکي او يا کوچني له هغو، له کوم ځخه چې پيرودل کوي په لږ وخت کي په زيات ممکنه سرعت سره هغه چاقوي. په دې نوعه خدمتونو کې پانګونه تر يوه حده ډېره وي. له دې سببه چې ښه کيفيت لرونکي غذا،غوجلي او لوازمو ته اړتيا لري. د خوسکو د خدمتونو وخت نسبت د هغوی د توليدي وخت لپاره کم وي. له دې سببه د خوسکو خدمتونه د ٤-٦ مياشتو پوري په بر کې نيسي. د خوراکې د لوړ قيمت ځخه علاوه، د طوېلي،لوازمو او کارګر مصرف هم لوړېږي. د تېز دوران د تولو لګښتونو با وجود، يو تکړه اداره کونکي ته د غواګانو په تغذيه کې اړتيا لېدل کيږي.پاورپواينټ ٢٠-٢١ سلايد.

**C. سوچه نسل توليدونکي نسل:** د هغه توليد کونکو نه عبارت دي چې رمې د مورني سټاک توليد لپاره او د زړو او نامطلوبو غوايانو د عوض کولو او يا مني د خوسکو د سوچه نسل د توليد لپاره ساتي. د ا مورنی سټاک د رمې جنيتيکي اصطلاحات برابروي. د سوچه نسل د توليد د کار لومړنی مصرف لوړ وي، په همدې خاطر د هغه ځاروی قيمت چې د لوړ جنيتيکي ځانګړني لرونکي وي اوچت وي، د منځني حد غواګانو ته لوړه پانګونه ځکه په نسبي توګه لوړه وي چې د باکيفيته ځاروي توليد زيات وخت په برکې نيسي. ځنې وختونه د ځاروی د موفقيت د ښودلو لپاره زيات وخت (کلونو) ته اړتيا لري ترڅو د اولادونو ريکارډ يې ترتيب کړو،همدارنګه دا کار يو ماهر پوه ته اړتيا لري چې دا نوع خدمت مخکې ويسي.پاورپواينټ ٢٢-٢٣ سلايدونه.

**3-1:TM** د ټولګيوال بحث په اساس غوښينو غواو د هرنوعه خدمتونو د ګټو او زيانونو لپاره استعمال کړئ.

## دنظرنويوالی/لنډيز:

د لوست د لنډيز کولو په خاطر د زده کونکو يادي کړي موخي استعمال کړئ. زده کونکي بايد ټول محتويات چي له هري موخي پوري اړه لري روښانه کړي. زده کونکي بايد د غوښينو غواو غوښيني برخي ونوموي. وروسته له هغي د غوښينو غواو معمولي نسلونه لست کړي. همدارنګه هغه تګ لاره روښانه کړي د کومي پواسطه چي غوښيني غواوي ټاکل کيږي او په پای کي د غوښينو غواو د توليد جوړونکي نوعي تشخيص کړي.

## اجرا کول:

د هغي اجرا په لابراتوار کي د زده کونکو د برخه اخستلو په سبب صورت نيسي.

## ازمويل:

ازموينه بايد په هغه موخو متمرکزه وي چي زده کونکو په هر لوست کي زده کړي وي.ددې منظور په خاطر توپيري تخنيکونه استعمال کيدای شي.لکه د عملي کارونو او فعاليتونوسرته رسول په لابراتوار کي او د ليکني بڼي ازموينه چي ددي ورقو سره ضميمه وي.

## دساده ازمويني لپاره ځوابونه:

**لومړی برخه: پيوسته کول(Matching)**

**1 = e, 2 = f, 3 = d, 4 = b, 5 = a, 6 = h, 7 = g, 8 = c**

**دويمه برخه : د جملو پوره کول**

**A.** د غوښېدويا برخه کېدو قدرت(**Cut ability**).

**B.** برابرول او غوښتنه(**Supply and demand**).

**C.** نربالغ خصی شوي څاروی(**Adult castrated males**).

D. په زړه پوري ځانګړتیاوي(Desirable traits).

E. دبدن د جوړښت په اساس ازمايښت او نمره ورکول(Frame score).

F. په طبیعي توګه د ښکرو نه شتون(Polled).

دریمه برخه: لنډ ځوابونه

هر يو له زده کونکو دي له لاندې نسلونو څخه غواوي لست کړي.

برهمان- غوائی- نیلور- اندوبرازیلی.

| لومړنی ازموینه | نوم ______________________ |
|---|---|

لومړنی برخه: اړیکه ورکول(Matching)

روښانه کول: د صحیح ځوابونو سره اصطلاحات و نښلوئ او هم د مناسبو اصطلاحاتو په وړاندې صحیح حرفونه د لېکل شوي اعدادو په مقابل کې د ځوابونو په خالیګاه کې ولیکئ.

a- د غواو تغذیه کونکي(Cattle feeders)

b- غوښتنه(Demand)

c- دسوچه نسل ، نسل تولیدونکي(Purebred breeders)

d- د خوسکی خدمتونه(Cow-calf operation)

e- چاقېدونکي خوسکي(Feeder calves)

f- یو کلن چاقېدونکي خوسکي(Yearling feeders)

g- بڼه(Conformation)

h- مرمریت(Marbling)

----- ۱- د مور نه جلا شوي خوسکي چې عمر یې د یو کال څخه لږ وي، د پلورلو تروخته په طویلو کې تغذیه کیږي.

----- ۲- هغه خوسکي چې عمر یې د ۱-۲ کالو ترمنځ وي په نورو تولېد کونکو باندې د تغذیه کولو په خاطر پلورل کیږي ترڅو د مارکیټ لپاره مناسب وزن واخلي.

----- ۳- په نورو تولید کونکو باندې د هغه بالغو غواګانو پلورل چې خوسکي تولیدوي، د دې په خاطر چې وي پلوري.

----- ٤- د هغه حاصل اندازه چې په معلوم وخت کې په معلوم قیمت اخستل کیږي.

----- ٥- هغه تولېد کونکي چې غوښیني غواوي د مارکیټ او مسلخ په خاطر تغذیه کوي.

----- ٦- په غوښینه عضله کې د په زړه پوري شحم شتون.

----- ۷- د یو څاروی نوعه ، شکل او جوړښت.

----- ۸- هغه تولید کونکي چې د سوچه نسل د ستاک د برابرولو، د زړو غوایانو(نامطلوب)د عوض کولو په خاطر او یا د منی د تولېد لپاره د خوسکو د خدمت په خاطر د غواو رمې ساتي.

**دوېمه برخه: د جملو پوره کول**

روښانه کول: د لاندې جملو د پوره کولو په خاطر لغت یا لغاتونه پیداکړئ:

1- __________ د غوښې د کوچنیو برخو اندازه چې د جسد څخه په لاس راځي.

2- __________ ټول هغه حاصلات چې په یو ټاکلي وخت او ________ او د هغه حاصلاتو اندازه چې په یو ټاکلي وخت کې په یو ټاکلي قیمت پیرل کیداي شي .

3- غوایان عبارت دي له یو__________ __________ __________ څخه چې دکار کولو لپاره په فارم کې معمولاً د دوه ګوني ټیم(جوړه ئي) په شکل استعمالیږي.

4- __________ __________ د هغه ځانګړتیاوو نه عبارت دي چې په یو مارکیټ کې یې غوښتنه کیږي.

5- __________ هغه اندازه کولو نه عبارت دي چې د څاروی د لېدنې او په ۲۰۵ ورځو کې د هغې د ازمایښت په اساس صورت نیسي.

6- __________ د هغه څاروی څخه عبارت دی چې په طبیعي توګه ښکرونه، نه لري.

**درېمه برخه: لنډ ځوابونه**

لاندې سوال ته ځواب ووایاست

معمولي غوښیني غواوي کومي دي؟

**TM: ۱-۱**

## د غوښینو غواوباندني قسمتونه او غوښیني برخي






**TM: ۱-۲**

## د رمې د اصلاح په خاطر د غواو ټاکنه

➢ د غوښتني وړ ځانګړتیاوي(**Desirable Traits**): د هغه ځانګړتیاوو څخه عبارت دي چې په مارکیټ کې یې غوښتنه کیږي. په عمومي توګه ټاکنه د جوړښت او تولیدي ریکارډ په اساس صورت نیسي.

➢ بڼه(**Conformation**): د څاروی د شکل،جوړښت او نوعي څخه عبارت ده.

➢ اجرا کونکي ځانګړتیاوي(**Performance**): د مثل د تولید، د مور دشیدو څخه د جلاکېدو، وزن اخستل او د څاروی د قوي پاتي کیدو قدرت څخه عبارت دي.

- د ظاهر جوړښت په اساس نمره ورکول(Frame score):د ۲۰۵ ورځو په موده کې د لېدنې او ازمايښت په اساس د څاروی د اندازه کولو نه عبارت دي.
- د یو نسل تولي ځانګړتیاوي د بل نسل څخه غوره والی نه لري.
- د یو نسل د ټاکني لپاره د فردي ځانګړتياو له مخي د هغه نسل د اولويتونو څخه چي په لاس يې لرى تصميم ونيسئ.
- د مشهور نسل توليد کونکو ټاکنه په اطمناني توګه غوښيني غواوي چي د ناروغيو او جنيتيکي ستونزو نه خالي وي د نسل اخستنې لپاره ټاکي.

TM۱-۳

## د غوښينو توليدي غواو خدمتونه

### د غوا خوسکی

| ګټي | زيانونه |
| --- | --- |

### د غواو تغذيه کونکی

| گټي | زيانونه |
|---|---|

## د سوچه نسل ،نسل ورکونکي

| گټي | زيانونه |
|---|---|

**LS ۱-۱**

نوم: ______________________

## دغواو نسل

| | |
|---|---|
| هغه هېواد چې منشا يې ورنه اخستي | |
| د بالغ غوائي لپاره وزن | |
| د بالغي غوا لپاره وزن | |

| | |
|---|---|
| رنگ | |
| په زړه پوري ځانګړني | |
| د نسل پوري تړلي زړه راښکونکي حقیقتونه | |